AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۴ / ۰۵

# د اغزن سیم د نړولو کمپاین

پاکستان له ۲۰۱۷ کال راهیسي په رسمي بڼه د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د کټارۍ او اغزن سیم غځولو پروژه د وسله والو د تګ راتګ د مخنیوي او د قاچاق د کنټرول په پلمه پیل کړه. خو د پاکستان اصلي موخه دا وه چې ډیورنډ کرښه په یو اړخیز ډول د رسمي نړیوال سرحد په توګه تثبیت کړي.
د اغزن سیم ټول اوږدوالی شاوخوا ۲۶۰۰ **کیلومتره** اټکل شوی. په ځینو سیمو کې د فلزي ستنو لوړوالی، چې اغزن سیم پرې ټرل شوی، تر **څلورو مترو** رسېږي.



پاکستان د دې کټارۍ په غځولو کې د ډیورنډ کرښې د میداني واقعیتونو له پامه غورځولو سره مهم ستراتیژیک لوړ ځایونه تر خپل پوځي اشغال لاندې راوستي او په لاندې سیمو کې یې لسګونه کیلومتره د افغانستان خاورې ته دننه پرمختګ کړی دی :
- سپین بولدک، چمن او شورابک (کندهار)
- لعل پور، ګوشته او د تورخم تر کنړ درې پورې (ننګرهار)
- دانګام، ناړۍ او سرکانو (کنړ)
- خوست – ځاځي میدان
- د پکتیکا ځینې برخې .

هغه دلایل چې د اغزن سیم د حقوقي بطلان لپاره وړاندې کېږي، له هماغه حقوقي وړتیا څخه برخمن دي چې د ډیورنډ کرښې د الغا لپاره مطرح دي.
ډیورنډ کرښه : د لاندې دلایلو له مخې د افغانستان له لوري هېڅکله په رسمیت نه ده پېژندل شوې :
- د ۱۸۹۳م کال تړون د امیر عبدالرحمن خان او بریتانوي هند ترمنځ د نابرابرو شرایطو لاندې ترسره شوی و. افغانستان هغه مهال د انګلستان تحت الحمایه و او د هېواد بهرنۍ تګلاره د بریتانیا په واک کې وه.
- دغه تړون هغه سیمې چې په تاریخي او دودیزه توګه د افغانستان خاوره بلل کېدې، برتانوي هند ته ورزیاتې کړې.
- د تړون موضوع یوازې د سیاسي نفوذ د ساحو ټاکنه وه، نه د جغرافیایي وېش او نه هم د دایمي نړیوال سرحد تثبیت. له همدې امله د بریتانوي استعمار په پای ته رسېدو سره د تړون حقوقي اعتبار هم له منځه ځي.
- د پاکستان دا ادعا چې ګواکې د بریتانیا د پاتې میراث له مخې د ډیورنډ تړون وارث دی، د هېوادونو د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا له اصولو سره په ټکر کې ده؛ ځکه د کرښې دواړو غاړو ته د مېشتو پښتنو او بلوچو د خلکو اراده او رضایت یکې هېڅکله په پام کې نه دی نیول شوی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اغزن سیم هم : لکه د ډیورنډ کرښه، حقوقي توجیه نه لري او د لاندې دلایلو له مخې باطل ګڼل کېږي :
- افغانستان هغه مهال لږ تر لږه د څلوېښتو بهرنیو هېوادونو د پوځي حضور او اشغال تر اغېز لاندې و.
- پاکستان د اشغالګرو ځواکونو په ضمني همغږۍ، په یو اړخیز ډول پر لانجمنې کرښې کټارې غځولو ته لاس واچاوه.
- کمزوري او ګوډاګي حکومتونه د پاکستان پر وړاندې د ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د دفاع جوګه نه و.
هیله لرو چې د بهرني اشغال تر سیوري لاندې د واکمنو حکومتونو مشران به یوه ورځ د خاورې د پلورلو او ملي خیانت په تور محکمې ته راکش شي.
- د افغانستان او پاکستان ترمنځ او نه هم د بهرنیو ځواکونو او پاکستان ترمنځ د اغزن سیم د غځولو په اړه کوم تړون نه دی لاسلیک شوی. که فرضاً لاسلیک شوی هم وای، د اشغال د شرایطو له امله به له حقوقي اعتباره بې برخې و.
د دې پروژې بودجه د پاکستان له دولتي سرچینو، په ځانګړې ډول د دفاعي بودجې څخه تمویلېده او عملي چارې یې پوځ او امنیتي ارګانونو ته سپارل شوې و.
د لګښت کره شمېرې نه دي خپرې شوې، خو نږدې اټکلونه یې د **دوو تر درېو میلیاردو ډالرو** ترمنځ ښیي.
امریکا او ناټو له ۲۰۰۱ تر ۲۰۲۱ پورې په افغانستان کې حضور درلودل او پاکستان ته یې د تش په نامه ترهګرۍ ضد جګړې د ستراتیژیک شریک په توګه میلیاردونه ډالر ورکړل. په دغو مرستو کې د سرحدي ځواکونو تجهیز، روزنه او لوژستیکي ملاتړ هم شامل و. پاکستان د بهرنیو مرستو لویه برخه د امریکا په ضمني رضائیت، د همدې کټارې په غځولو ولګوله.
خو داسې کوم سند نه شته چې وښیي امریکا او متحدینو په نیغه د اغزن سیم د غځولو مالي لګښت ورکړی وي.
پاکستان هېڅ حق نه لري چې په هغو سیمو کې چې افغانستان یې لانجمنې بولي، اغزن سیم وغځوي. په بل تعبیر، پاکستان نه شي کولای د اختلاف وړ سیمې حقوقي وضعیت په یو اړخیز ډول بدل کړي.
د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د اغزن سیم نړول باید د افغانستان او پاکستان د رواني شخړې له لومړیتوبونو څخه وي. د دې کټارې لرې کول په حقیقت کې د ډیورنډ کرښې د الغا او په پښتونستان او بلوچستان کې د افغانستان د حاکمیت د پراختیا لومړنی عملي ګام ګڼل کېږي.
اټکل نه کېږي چې هغه تعرضي جګړه چې پاکستان پیل کړې، ژر به پای ته ورسېږي. ټي ټي پي تازه خوځېدلې ده او د هغې راتلونکي سختې حملې پر فاسد پاکستانی پوځ به بیا پاکستان ته دا پلمه په لاس ورکړي چې پر افغانستان هوایي بریدونه ترسره کړي.
له همدې امله افغان طالبان باید ځان د یوې اوږدې مهالې فرسایشي جګړې لپاره چمتو کړي. داسې جګړه چې د پاکستان تر احتمالي سقوط پورې دوام موندلی شي. طالبان د جهاد شعار په لاس کې لري، خو د اغېزمن پوځي تجهیزاتو له شتون پرته یوازې شعار کافي نه دی چې دښمن شاتګ ته اړ شي.
د شیخ هبت‌الله هغه درېځ چې د جهاد د وسلې له عملي کارونې ډډه کوي، پاکستان نور هم هڅوي چې پر ملکي هدفونو بریدونه زیات کړي. ( دا چې ولې پاکستانی اجیر پوځ ملکي هدفونه په نښنه کوي، خپله جلا او مهم بحث دی چې په مناسب وخت وربانې غږېږو ).
د یادونې وړ ده چې د جهاد د فتوا هر ډول کارونه باید په افغانستان کې له سیاسي بدلون سره مل وي. په افغانستان کې د داسې نظام جوړول چې په کې کار اهل کار ته وسپارل شي او د خلکو او نړیوالي ټولنې لپاره د منلو وړ وي، له پاکستان سره په جګړه کې د افغانستان برلاسي تضمینوي.
د ډیورنډ هغې خوا د جهادي جذباتو پراختیا، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د نجونو ښوونځي او پوهنتون تړل شوي، په حکومتي اورګانونو د ښځو کار منع شوی او شته حکومت د اساسي قانون په بنسټ ندې جوړ شوی، د طالبانو په وړاندې نړیواله وېره زیاتوي. په داسې حالت کې به نړۍ د پاکستاني پوځ تر شا د طالبانو پر ضد ودرېږي.
په لنډه ! د اوسنې جګړې بریالی مدیریت د یوه مشروع نظام له جوړېدو، له ډیپلوماتیکي انزوا څخه د وتلو، او په ځانګړي ډول په سیمه او له سیمې بهر د متحدینو له موندلو پرته ناشونی دی.
واقعیت دا دی چې پر افغانستان د پاکستان د تېري اصلي انګېزه له افغان طالبانو وېره ده : پاکستان وېره لري چې ښایي افغان طالبان له ټي ټي پي سره په احتمالي همغږۍ کې د پاکستان زیان منونکې ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ پېښ کړي..
پاکستان په افغانستان کې ځان له داسې ولس سره په ښکاره دښمنۍ کې اچولی چې په خپله خاوره کې جګړه قاعده او سوله استثنا ګڼي. له پاکستان څخه ډېر ځواکمن یرغلګر هم له افغانانو سره په جګړه کې بریالي نه دي وتلي. پوښتنه دا ده چې آیا پاکستان چې په
دوو جبهو کې :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- په کور دننه له پښتنو او بلوچو سره
- په بهر کې له افغانستان او هند سره

ښکېل دی، کولي شي سلامت پاتي شي ؟
ښېښکه د دې جګړې دوام به د سیمې جغرافیه بدله کړي، په دې شرط چې جګړه په سمه سیاسي او پوځي تګلاره مدیریت شي او نړۍ د طالبانو له افراطیت څخه ونه وېرېږي.

« پای »



آرشیف: مطالب نشر شدۀ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ